# کله چې تاسې د خپلې پناه غوښتنې غوښتنلیک ته انتظار باسئ

## که مونږ چیرې باید لا زیاتې پلټنې (اضافي پلټنې) تر سره کړو

که مونږ چیرې باید ستاسو په قضیه کې لا زیاتې پلټنې تر سره کړو، کیدای شي تاسو ته ځواب درکول زیات وخت ونیسي. د بېلګې په توګه، کیدای شي لا زیاتې پلټنې دا وي، چې مونږ باید ستاسو اسناد په ژوره توګه وڅېړو او یا مو هویت تائید کړو. همدارنګه کېدای شي نورې پلټنې هم وي. د کډوالو د چارو اداره (UDI) دیرې وخت د نورو دولتي ادارو مرستې ته اړتیا لري، نو ځکه د قضیو څېړل زیات وخت نیسي.

د انتطار موده د دې د احتمال څرګندونه نه کوي، چې تاسو به په ناروې کې پاتې شئ او که نه. کیدای شي ستاسو په کمپ کې کوم بل څوک له تاسو څخه مخکې ځواب تر لاسه کړي؛ د دې مانا دا نه ده، چې ستاسو په قضیه کې کومه ستونزه ده او یا د کډوالو د چارو ادارې (UDI) تاسو هیر کړي یاست. د دې لامل زمونږ د کار طریقه ده.

کله چې مونږ ستاسو قضیه وڅېړو، تاسو ته به خبر درکړو.

## آیا زه په دې څه اغیزه لرلی شم، چې د کډوالو د چارو اداره (UDI) زما د قضیې په څېړلو څومره وخت لږ‌وي؟

تاسو په دې اغیزه نشئ درلودلای، چې مونږ ستاسو قضیه په څومره وخت کې څېړو.

که چیرې تاسو له مونږ سره تلیفوني اړیکه ونیسئ او د انتطار د مودې په هکله راڅخه وپوښتنئ، هغه مالومات به درکړل شي، چې د انتظار د مودو په هکله په مالوماتي پاڼې کې لیکل شوي دي. له دې څخه زیات مالومات نه شو درکولای.

که چیرې تاسو نه غواړئ انتظار وباسئ چې غوښتنلیک مو د کډوالو د چارو د ادارې (UDI) لخوا وڅېړل شي، خپل یا بل داسې هېواد ته، چې تاسو په کې د استوګنې اجاره ولرئ، د بیرته ستنېدنې لپاره مرسته تر لاسه کولای شئ.

د بیرته ستنېدنې د مرستې د غوښتنلیک وړاندې کولو او همداراز د یادې مالي مرستې د اندازې په هکله مالومات په لاندې انترنت پاڼه کې لوستلای شئ:

[www.udi.no/retur](http://www.udi.no/retur)

همداشان تاسو کولای شئ په دې هکله د لا زیاتو مالوماتو د تر لاسه کولو لپاره د کډوالو له نړیوال سازمان (IOM) سره په ۲۳۱۰۵۳۲۰ تلیفوني شمېره او یا د لاندې انترنت پاڼې له لارې اړیکه ونیسئ:

[www.iom.no](http://www.iom.no)

UDI

## د اسنادو او د ډاکتر د تصدیق رااستونه

### د پېژندګلوۍ (هویت) اسناد باید پولیسو ته واستول شي

دا اړینه ده چې تاسو د پېژندګلوۍ (هویت) د اسنادو د تر لاسه کولو لپاره کوښښ وکړئ. تاسو باید اصلي اسناد د کډوالو د چارو اداري (UDI) ته ونه لېږئ، بلکې د خپلې استوګنې د سیمې پولیسو ته یې وسپارئ. همدارنګه تاسو کولای شئ اسناد د پولیسو د بهرنیانو د چارو څانګې (Politiets utlendingsenhet) ته د پوستې له لارې واستوئ. د یادې څانګې پته دا ده:

Politiets utlendingsenhet
v/ Dokumentsenteret
Postboks 2095 Vika
0125 Oslo

تاسو باید په یوه پاڼه کې خپل نوم او د دوف شمېره (DUF-nummeret) ولیکئ او په پاکټ کې یې کېږدئ.

### د ډاکتر تصدیق باید د کډوالو د چارو اداري (UDI) ته واستول شي

که چېرې تاسو روغتیایي ستونزې لرئ او په دې آند یاست چې دا ستونزې مو د پناه غوښتنې د غوښتنلیک لپاره د اهمیت وړ دي، مهمه ده چې ډاکتر مو درته تصدیق درکړي. د ډاکتر تصدیق د کډوالو د چارو اداري (UDI) ته په لاندې پته استولای شئ:

UDI

Postboks 2098 Vika

0125 Oslo

تاسو باید په یوه پاڼه کې خپل نوم او د دوف شمېره (DUF-nummeret) ولیکئ او په پاکټ کې یې کېږدئ.

### د برېښنالیک له لارې مالومات

تاسو ته ستاسو د پناه غوښتنې د غوښتنلیک په هکله مالومات د برېښنالیک له لارې استول کېږي. برېښنالیکونه هغو برېښنالیکي پتو (ادرسونو) ته استول کېږي، چې تاسو موږ ته راکړي دي.

موږ هغه وخت لومړنی پیغام تاسو ته دراستوو، چې ستاسو قضیه د پولیسو لخوا تر لاسه کړو. د وخت په تېرېدلو سره به نور مالومات هم له دې لارې در استوو، د بېلګې په توګه، په دې هکله خبر (پیغام) چې ستاسو قضیه تر څېړنې لاندې ده او یا ستاسو په قضیه کې پرېکړه شوې ده.

یاد پیغامونه به په ناروېژي او انګلیسي ژبو وي او دا مالومات به په کې شتون نلري، چې تاسو پناه غوښتونکی یاست.

که تاسو نه غواړئ چې زموږ لخوا برېښنالیکونه تر لاسه کړئ، نو موږ ته باید په دې هکله خبر راکړئ. په دې هکله زموږ د لارښوونې د خدماتو له څانګې سره په ۲۳۳۵۱۶۰۰ شمېره اړیکه نیولای شئ.